DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۱۳

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

PROPERTY OF ACKU

په افغانستان کې د امریکایي وژل شویو سرتېرو شمېر ۱۲۶۰ تنوته ورسېد

د خبري رسنیو د رپوټونو له مخې وروسته له دې، چې د افغانستان په سوېل کې وړمه ورځ یو امریکایي سرتېری ووژل شو، په ټولیزه توګه د افغانستان په جګړه کې د ۲۰۰۱ زکال (د امریکایانو د یرغل له پیله څخه تر اوسه) د امریکایي وژل شویو سرتېرو شمېر ۱۲۶۰ تنوته ورسېد.

رپوټونه زیاتوي، چې له دغه شمېر ۳مخ

لسم کال - دویمه دوره، ۹۱۳ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۸۰ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د لړم ۱۵ مه - د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذِوالقعدة الحرام ۲۹ مه ۲۰۱۰ د نومبر ۶ مه

افغان سوداګر:

د سوداګرۍ په برخه کې شوی ټرون، یو ګټور ګام دی

د سوداګرۍ وزارت مرستیال غلام محمد ایلاقي وایي ددغه ټرون په پلي کېدو سره به افغان سوداګر په دې وتوانېږي چې خپل سوداګریز توکي د پاکستان له سمندري او وچو بندرونو څخه د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته واستوي. ښاغلي ایلاقي وویل یاد شوی ټرون به تر لاسلیکېدو یو دېرش ورځې وروسته پلی کېږي. ښاغلي ایلاقي وویل ددغه ټرون ګټې یوازې افغانستان ته نه رسېږي، بلکې د پاکستان سوداګري به هم ورسره تر ډېره وغوړېږي. تر دې مخکې د افغانستان او پاکستان تر منځ سوداګریز اړیکې د ۱۹۶۵ میلادي کال د ټرون پر بنسټ تر سره کېدل، چې ځینې ستونزې هم ور سره ملې وې. خو له تېرو دوو کلونو راهیسې دواړو هېوادونو هڅې پیل کړې وې چې په دې برخه کې بل ټرون لاسلیک کړي چې دوخت غوښتنو ته ځواب ووایي. ددغې چارې د بشپړتیا په موخه د دواړو هېوادونو چارواکو ۷ ځله په کابل او اسلام اباد کې ددغه ټرون پر منځپانګه هوکړه وکړه او په پایله کې د دواړو هېوادونو تر منځ د ترانزیټ نوی ټرون نږدې لس ورځې مخکې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ د وزیرانو له خوا لاسلیک شو. افغان سوداګر ددغه ټرون لاسلیکول یو تاریخي ګام بولي او وایي له دغه ټرون سره به افغانستان سوداګرۍ چارې په اسانه تر سره کولای شي. د افغانستان د سوداګرۍ وزارت چارواکي وایي چې په دغه ټرون سره به د دواړو هېوادونو تر منځ نه یوازې دا چې ترانزیتي ستونزې هوارې شي، بلکې په ټرون کې دا هم ۳مخ

اوباما: من مسئوولیت کامل این شکست را بر عهده می گیرم

بارک اوباما رسما به شکست در انتخابات میان دوره یی کشورش اعتراف کرد

بارک اوباما چهل و چهارمین رییس جمهورایالات متحده رسما به شکست در انتخابات اعتراف کرد. اوباما که تنها دو سال از عمر حرفه یی اش به حیث رییس کاخ سفید می‌گذرد در مصاحبه مطبوعاتی در کاخ سفید نخستین واکنش به نتیجه انتخابات میان دوره یی کنگره را رقم زد. وی که بسیار متاثر به نظر می رسید اعتراف کرد که دموکرات ها شکست مفتضحانه در این انتخابات داشتند. اوباما در این خصوص گفت: من مسئوولیت کامل این شکست را بر عهده می گیرم.

رییس جمهور اوباما ادعا کرد که این ناکامی‌های اقتصادی بودند که این شکست را رقم زدند. با این همه اوباما در سخنان خود به پیروزی جمهوری خواهان در این انتخابات اشاره یی نکرد و از این اعتراف که این شکست در حقیقت نشانه نارضایتی مردم از دموکرات ها بوده است سرباز زد.

اوباما در خصوص ناامیدی مردم از سیاست های دولت گفت: ما انچنان برای تغییر دادن اوضاع مردم تعجیل به خرج دادیم که فراموش کردیم شیوه اداره امور را فراموش کنیم.



اوباما تاکید کرد که دموکرات ها از این پس با جمهوری خواهان برای اداره بهتر امور همکاری خواهند کرد. سخنان اوباما پس از این شکست بسیار به سخنان جورج بوش در سال ۲۰۰۶ میلادی و روزهایی که جمهوری خواهان کنترول کنگره را به دموکرات ها بخشیدند شباهت داشت.

اوباما تاکید کرد که حوزه های ص۳



زه دې وچ هېوکي شېپلم، خو ملت مې دې سلطان وي ۲

هیلری کلینتن:

از عملکرد ضعیف دموکرات‌ها متاسفم



وزیر امور خارجه امریکا بار دیگر گمانه زنی‌ها در مورد تلاشش برای کاندیداتوری در انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۱۲ امریکا را رد کرد.

هیلری کلینتن وزیر امور خارجه امریکا، دیروز در نیوزلند در گفت وگو با خبرنگاران تصریح کرد که وی حتا پس از اعلام نتایج انتخابات میان دوره یی کنگره امریکا که باعث شکست دموکرات‌ها در مجلس نماینده گان امریکا و تسلط جمهوری خواهان بر آن شد، قصد ندارد برای انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۱۲ در امریکا کاندیدا شود.

برخی اعلام کردند که هیلری کلینتن باید از فرصت کاهش شدید محبوبیت بارک اوباما، رییس جمهور امریکا ص۳

نامه اوباما به ۷هزار دالر فروخته شد

یک مادر ۲۸ ساله امریکایی که چندی پیش بارک اوباما در نامه یی با دستخط خود به او نوید بهبود شرایط زنده گی اش را داده بود از منتهای مجبوریت آن نامه را به منظور به دست اوردن لقمه نانی فروخت.

اوباما هر چند که با سیاست هایش، غذا را از سر سفره بسیاری از امریکایی ها جمع آوری نموده اما با نامه اش دستکم برای این مادر جوان امریکایی، غذا تهیه کرد!

"جنیفر کلاین" این زن میشیگانی نامه را به ۷ هزار دالر فروخت اما اشاره کرد که اگر می توانست صبر کند، ارزش این نامه به ۱۸ هزار دالر می رسید.

خبر حراج این نامه آن هم در روز برگزاری انتخابات مجالس امریکا، ضربه دیگری به حزب ص۳

وزیر دفاع آلمان در افغانستان:

باید با رویاهای خویش درمورد افغانستان خدا حافظی کنیم

ماباوضاع امنیتی را نه از پشت میز بلکه از نزدیک ببینیم

وزیر دفاع آلمان که به چین سفر کرده بود، در سفری غیرمنتظره وارد افغانستان شد.

به گزارش خبرگزاری ایسنا، کارل تئودور تسوگوتنبرگ وزیر دفاع آلمان، بعد از سفر به چین به شمال افغانستان سفر کرد تا اوضاع امنیتی این منطقه را از نزدیک مشاهده کند.

سفر وزیر دفاع آلمان به افغانستان در حالی صورت گرفت که وی پیشتر اظهار داشته بود از این پس هر دو ماه یکبار از سربازان این کشور در افغانستان دیدن می‌کند.

گوتنبرگ در منطقه "چاردره" افغانستان و ضمن دیدار با سربازان آلمانی، ضمن اشاره به درگیری‌های اخیر شبه نظامیان طالبان با سربازان آلمان و زخمی شدن سه سرباز آلمانی گفت: شبه نظامیان از همه جهات ما را هدف حملات خود قرار داده‌اند.

وی افزود: اکنون انگیزه بیشتری برای من وجود دارد تا اوضاع امنیتی ص۳

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

ایران په افغانستان کې څه غواړي؟

په دې وروستیو کې د نړیوالو اقتصادي چارو لپاره د ایران د بهرنیو چارو وزارت مسوول محمود برامني د افغانستان په اړه یو لړ څرګندونې کړي او دا څرګندونې وروسته تر دې شوي، چې افغان ولسمشر کرزي ومنله، چې د دفتر مشر یې له ایران څخه د نقدو پیسو بکسونه ترلاسه کړي دي.

ده همداشان د دغو پیسو د پټې ورکړې په هکله وویل، چې پنځه سوه میلیونه ډالره مالي مرسته یې په افغانستان کې د بیارغونې د پروژو او د افغان دولت د ظرفیتونو د لوړوالي په موخه کې کړې ده. نوموړي دا هم ویلي ایران د سیمې د هر بل هېواد په شان په افغانستان کې د سولې او ارامۍ غوښتونکی دی او د داسې یوه افغانستان ملاتړ کوي چې له خپلو ګاونډیانو سره په سوله کې وي. د دغو مرستو په هکله په امریکا کې هم منفي غبرګونونه را وپارېدل او د ایران په دې ډول پټو مرستو او لاسوهنو یې شک څرګند کړ. خو که له حقیقي او حقوقي پلوه دا مسئله وڅېړل شي، نو دا پخپله د ایران له خوا د افغانستان په چارو کې لاسوهنه ده، ځکه د دې ډول پیسو ورکړه او هغه هم په پټه توګه پخپله دا پوښته راپورته کوي، چې ولې دا مرستې نمایانه او د رسمي مرستو په چوکاټ کې افغانستان ته نه ورکول کېدې. همداشان که له دغو مرستو لوېدیځو رسنیو پرده نه وای پورته کړې، خدای خبر، چې تر کومه پورې به حالت همداسې په پټه کې روان و. په همدې حال کې امریکا او ناټو هم تل په افغانستان کې د ایران پر کړنو او فعالیتونو شک څرګند کړی او دا خبرې یې کړي، چې ایران په افغانستان کې بې ثباتۍ او ناامنۍ ته لمنه وهي او ورو ورو په لوېدیځ کې خپل نفوذ پراخوي. په دې توګه ایران که له یوې خوا په افغانستان کې د سولې د پلوۍ چیغې وهي، خو بل پلو بیا په دغه هېواد کې د ناامنۍ په پروسه کې هم لاس لري، چې ښه بېلګه یې په دې وروستیو کې په سوېلي ولایتونو کې د ایراني وسلو موندل او تر لاسه کول دي، چې د ایران له خوا افغانستان ته استول شي، خو ایران په کلکه دا ډول راپورنه رد کړي دي.

که په عمومي ډول په افغانستان کې د ایران پر مستقیمو او نامستقیمو لاسوهنو باندې رڼا واچول شي، نو ښایي ووایو، چې ایران هم د نورو ګاونډیو هېوادونو په څېر په پراخه پیمانه د افغانستان په چارو کې لاسونه کوي. د دغو لاسوهنو له جملې نه یوه هم پراخه کولتوري لاسونه یا کولتوري یرغلل بللای شو، چې له دې مسئلې نه رسنیو په وار وار پردې پورته کړي او دغه یرغلونه یې برملا او غندلي هم دي او همداشان د دغه ډول فعالیتونو پر ضد په هېواد کې څو څو ځلې لاریونونه هم ترسره شوي دي. بله مهمه مسئله چې د ایران له خوا په افغانستان کې د لاسوهنې په توګه بلل کېدای شي، هغه پر ژبنې تعصب سربېره، مذهبي تعصب ته لمن وهل دي او ایران په دې برخه کې په ډېر ماهرانه او احتیاطانه توګه قدم اخلي، چې دا کار هم د افغانستان د راتلونکي لپاره خطرناک ګڼل کېدای شي. دا او دې ته ورته ځینې نور فعالیتونه هم شته، چې د افغانستان په چارو کې د ایران څرګنده لاسوهنه ورته ویلای شو.

په هر صورت که چېرې ایران لکه څنګه چې وایي، په افغانستان کې د سولې پلوی وي او د افغانستان له بیارغونې او ثبات سره مینه لري او په ریښتیا هم غواړي، چې په افغانستان کې سوله او ثبات رامنځته شي، نو اړینه ده، چې د افغانستان لپاره پر خپله روانه پالیسۍ له سره غور وکړي او هغه فعالیتونه چې په افغانستان کې د ولس په زړونو کې د کرکې اور شیندي، ودروي او همداشان د افغانستان په دننه کې هم ټول هغه څرګند او ناڅرګند فعالیتونه او لاسوهنې ودروي، چې په دې هېواد کې ورته د لاسوهنې نوم ورکول کېږي او خلک یې پروړاندې منفي غبرګون ښیي.

زه دې وچ هډوکي شپېلم، خو ملت مې دې سلطان وي

فهیم مینه ناک



د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي زلمي رسول د روان کال د لړم د میاشتې پر ۱۲ نېټه د ترکیې په استانبول ښار کې د سیمې د هېوادونو یوې غونډې ته وینا کوله. ده په خپله دې عجیبه وینا کې ډېرې مهمې نکتې یادې کړې او د ډېرو لاسته راوړونو او بریالتوبونو دعاوې یې هم وکړې. ښاغلي رسول دغې غونډې ته وویل، په افغانستان کې د خورا سترو طبیعي زېرمو کشف او له دې هېواده د سیمې د مهمو نللیکو د تېرېدو پروژې د افغانستان د راتلونکي لپاره لویې هیلې دي. د دې موضوع تر څنګ نوموړي دا هم وویل، چې په ۲۰۱۰-۲۰۰۹مالي کال کې د افغانستان کورنی ناخالص تولید ۲۲ اعشاریه پنځه او او حکومت اوس د لومړي ځل لپاره تر یومیلیارد ډالرو زیات عاید ترلاسه کوي! په همدې حال کې د پیسو نړیواله بسپنه د افغانستان اقتصاد ډېر کمزوری او په نورو پورې متکي بولي او وایي چې په دې هېواد کې ناخالص سړي سر عاید د کال شاوخوا پنځه سوه ډالر کېږي. د دې صندوق په نظر تېر کال د وچکالۍ د پای ته رسېدو او د زراعتي محصولاتو د زیاتېدو له برکته د افغانستان سړي سر عاید زیات شول. اسیایي پراختیایي بانک اټکل کوي چې په روان ۲۰۱۰ کال کې به د افغانستان وده ۸ اعشاریه ۹ او په ۲۰۱۱ کې ۶ اعشاریه ۸ وي. ښاغلي رسول دا هم وویل، په افغانستان کې د طبیعي زېرمو حیرانوونکي زېرمې او د دې هېواد له لارې له منځنۍ اسیا څخه جنوبي اسیا ته د ګازو او برېښنا د پرژو انتقال به د افغانستان ملي عاید زیات کړي او بېوزلي به لرې کړي. ده زیاته کړه: «د پراخوطبیعي زېرمو وروستی کشف، زمور له ګاونډیانو سره د سوداګرۍ او ترانزیت باالقوه فُرصتونه د سوکالۍ د ښه راتلونکي زېرې راکوي.»

د تاند وېبپاڼې له قوله، د تېر کال په سپتمبر کې ځلورو هېوادونو د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ترکمنستان د ګازو د پایپ لاین (تپي یا د ترکمنستان - افغانستان، پاکستان او هند) د پروژې پر جوړولو سلا وکړه.

پر دې سربېره په منځنۍ اسیا کې له قرغیزستان او تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته د برېښنا د لېږد په اړه هم خبرې شوې دي، خو د همدغې برېښنا په اړه داسې راپورونه هم خپاره شوي، چې همدغه د برېښنا ورکوونکي هېوادونه په خپله د برېښنا له کمښت سره مخ دي. همداشان د بیارغونې د هڅو په لړ کې د چین د وسپنې یوه کمپنۍ (ایم سي سي) هم غواړي چې د لوګر د عینک د مسو د کان د را ایستلو لپاره د څلور سوه (۴۰۰) میګاواټو برېښناکوټ جوړ کړي. د دې برېښنا نیمایي به په کمه بیه د افغانستان پر حکومت وپلورل شي. د دغه کان په اړه ویل شوي، چې دا کان به په پیل کې د کال د دوه لکه ټنه مسو د استخراج ظرفیت ولري، خو په دویم پړاو کې به د هغه ظرفینت د کال پنځه لکه ټنو ته ورسېږي.

همداشان د افغانستان د حاجیګک د اوسپنې پر کان هم خبرې روانې دي او ښایي د رایستلو لپاره یې پلانونه اوسټراتیژي ګانې هم جوړې شي.

که په ټولیزه توګه د افغانستان داخلي زېرمو او کانونو ته پاملرنه وشي او د جغرافیایي څېړنو په پام کې نیولو سره په سمه توګه یې ارزونه وشي، نو ویلای شو، چې په افغانستان کې دومره څه شته، چې پر

افغانستان سربېره ۳مخ

ښایي اروپا ته د افغانستان پر هوایي کرښو بندیز ولګول شي

د افغانستان د ترانسپورټ سرپرست وزیر داوود علي نجفي ویلي، دی به برسلز ته سفر وکړي او د اروپایي ټولنې د هوایي چلند د خوندیتوب جرګې ته به هغه تګلاره وړاندې کړي، چې ولسمشر حامد کرزي یې د دغې اونۍ په سر کې ورته سپارښتنه کړې وه. ښاغلي نجفي وویل: ((زه تمه لرم چې زه به اروپایان قانع کړم چې اروپا ته د افغانستان د هوایي کرښو د الوتکو ورتګ بند نه کړي.)) نوموړي زیاته کړه: ((ولسمشر کرزي ماته لارښوونه کړې چې د ملکي هوایي چلند لپاره د ترانسپورټ وزارت په چوکاټ کې یوه تګلاره جوړه کړم، چې دغه تګلاره به د افغانستان د ملکي هوایي چلند چارې تنظیم کړي.))

یوه لوړ پوړي اروپایي چارواکي ویلي د اروپا د هوایي چلند د خوندیتوب جرګې د سې شنبې پر ورځ غونډه کوي چې د افغانستان د ټولو هوایي کرښو د بندولو پر سر بحث وکړي. دغه چارواکي ویلي د افغانستان پر هوایي کرښود بالقوه بندیز لامل دا دی چې خوندیتوب یې معیاري نه دی.

د افغانستان د هوایي کرښو الوتکې تر دې وړاندې هم د اروپا ډېرو هېوادونو ته نه شوای تلای، خو په دې وروستیو کې ترانسپورټ وزارت ویلي وو، چې دوی هڅې کوي پر افغان هوایي کرښو لګېدلي بندیزونه پای ته ورسوي.

په کور دننه بندیزونه

د اکتوبر پر پنځه ویشتمه افغان حکومت اعلان وکړ چې د کور نیو هوایي شرکتونو د انتونوف الوتکو پر الوتنو یې له دې امله بندیز

لګولی، چې زړې او د افغانستان په غرنیو سیمو کې خطرناکې دي.

د انتونوف الوتکو په اړه اندېښنې له هغه وروسته ډېرې شوې چې د روان کال په غویي کې د پامیر هوایي شرکت یوه څلوېښت کلنه انتوف ۲۴ ډوله الوتکه د هندوکش دغرونو په لمنو کې ولوېده.

د بي بي سي د راپور پر بنسټ، د ترانسپورټ او هوایي چلند مرستیال وزیر محمدالله بتاش ویلي د انتونوف ۲۴ ډوله الوتکو په اړه د دوی د وزارت څېړنې ښیي چې د هېواد په غرنیو سیمو کې ډېرې خطرناکې دي.

د ښاغلي بتاش په وینا د افغانستان د هوایي چلند قوانین یوازې هغو الوتکو ته د الوتنې اجازه ورکوي چې د الوت عمر یې تر ۱۵ کلونو ډېر نه وي. خو تر اوسه پورې کره معلومه نه ده چې په افغانستان کې د کارول کېدونکو الوتکو عمرونه څو کلونو ته رسېږي.

اوباما: من مسئوولیت کامل ...

اموزشی و انرژی دو بخشی هستند که دو طرف بیش از پیش می توانند در آن با هم همکاری داشته باشند . اوباما در این خصوص به خبرنگاران گفت: انتخابات ریاست جمهوری را هم از دست خواهیم داد اگر گمان کنیم که می توانیم مانند دو سال گذشته به رویه خود در اداره امور ادامه دهیم.

اوباما که چهره در هم و اخم آلودش حکایت از پذیرش این شکست داشت اعتراف کرد که شب انتخابات سخت ترین شب برای او بوده است . وی در پاسخ به سوال خبرنگاری که از او پرسید: چه احساسی دارید؟ گفت: بسیار بد . دایم از خودم سوال می کنم که آیا می توانستم کاری کنم که رای دهنده گان بیشتری در کنار ما در این انتخابات بایستند؟

جمهوریخواهان مجال نفس ...

ایالات متحده در جهان ، باید بپذیریم که گزینه های پیش روی اوباما در دستگاه دیپلوماسی هم چندان نیستند . اما نمی توان این احتمال را نادیده گرفت که اوباما هم مانند بسیاری از روسای جمهور پیشین ایالات متحده پس از شکستی اینچنین ستیزه گر می شود . باید امیدوار ماند که اوباما در حوزه سیاست خارجی تعادل را حفظ کند حتا اگر جمهوری خواهان او را تحت فشار قرار دهند . تنها چیزی که می تواند به رابطه میان ایالات متحده و روسیه کمک کند، میانه روی است .

نامه اوباما به ۷هزار...

بارک اوباما بود.

این مادر امریکایی به اوباما نوشته بود که او از سال ۲۰۰۷ کارش را در یک دواخانه از دست داده و همه پس اندازش را هم در این دوره تمام کرده و او و فرزندانش زنده گی دشواری را سپری می کنند.

اوباما هم در پاسخ با دستخط خود برای وی نوشته بود که "اوضاع به تدریج بهتر خواهد شد ."

" کلاین" هنگام فروش این نامه به یک جمع آوری کننده نامه های دستخط مشاهیر امریکایی گفته است با این ۷ هزار دالر حداقل می توانم فقط شکم بچه هایم را برای این دو ماه سیر نگه دارم.

باید با رویاهای خویش درمورد ...

را نه از پشت میز که از نزدیک ببینم.

وزیر دفاع آلمان که پیشتر در منطقه نسبتا آرام میمنه حضور یافته بود، افزود: در بخش‌هایی از افغانستان چنین روندهایی وجود دارد.

وزیر دفاع آلمان تاکید کرد که واگذاری مسئوولیت افغانستان به افغان‌ها در گرو محقق شدن معیارهای خاصی در این کشور است.

این مقام آلمانی گفت: من همیشه از این مساله سخن گفته‌ام که ما به میزان قابل قبولی از ثبات نیازمندیم.

وی همین طور با سربازان کشورش در مزار شریف نیز دیدار کرد.

گوتنبرگ ضمن اشاره به آمار بسیار بالای قربانیان نیروهای بین المللی گفت: این مساله به عملیات قوی ما علیه افراطیون برمی‌گردد.

وی ضمن اشاره به اهداف واقعی در خصوص ماموریت نیروهای آلمان در افغانستان گفت: باید با تصاویر رویایی که طی سال‌های گذشته در مورد افغانستان ترسیم کرده ایم، خداحافظی کنیم. برخی از اهداف ما هرگز قابل دستیابی نیستند.

از عملکرد ضعیف دموکرات‌ها...

برای کاندیداتوری در انتخابات ریاست جمهوری آینده این کشور نهایت استفاده را نماید.

اما وزیر خارجه امریکا خاطر نشان کرد که وی از انجام فعالیت به عنوان دیپلومات ارشد امریکا رضایت دارد و نمی‌خواهد به عنوان اولین رییس جمهور زن تاریخ امریکا کاندیدای انتخابات شود.

وی در عین حال به خبرنگاران تصریح کرد که امریکا باید خود را آماده حضور یک زن به عنوان فرمانده کل قوا کند.

با این حال کلینتن در پاسخ به این سوال که آیا وی می‌خواهد اولین رییس جمهور تاریخ امریکا شود، گفت: من نه. ممکن است فرد دیگری باشد.

هیلری کلینتن در پاسخ به سوال خبرنگار دیگری در مورد اینکه آیا وی کاندیداتوری در انتخابات سال ۲۰۱۲ یا ۲۰۱۶ را رد می‌کند، گفت: بله.

این اظهارات هیلری کلینتن در حالی مطرح شد که وی در اواسط سفر دو هفته یی خود به هفت کشور آسیا - اقیانوسیه قرار دارد.

وزیر امور خارجه امریکا همچنین تصریح کرد که وی از عملکرد ضعیف دموکرات‌ها متاسف است.

با این حال هیلری کلینتن گفت: این موضوع بسیار تاسف آور است که شاهد باشید افراد برجسته کرسی‌های کنگره را از دست دهند، اما این بخشی از الگوی تاریخی است. من مطمین هستم که رییس جمهور در راستای همکاری جدی و سخت با کنگره در دو سال آینده و ایجاد یک رابطه قوی با نماینده گان جمهوری خواه گام بر می‌دارد.

زه دې وچ هډوکي شپېلم، خو ...

د سیمې د هېوادونو بسنه هم ورباندې کېدای شي. که څه هم امریکا په دې وروستیو کې دا مسئله روښانه کړه، چې په افغانستان کې د شاوخوا درې نیم تریلیون ډالرو په ارزښت زېرمې شته، خو دا څېړنه بیا هم دقیقه ځکه نه شو حسابولای، چې دا هم د یوه بهرني هېواد له خوا ترسره شوې ده او بنایي امریکا په دې برخه کې د خپلو ګټو په پام کې نیولو سره دا احصایه او دا اندازه سمه نه وي لګولې، بنایي له دې اندازې څو څو چنده وي.

که په لویه سطحه د افغانستان زېرمې او عواید په پام کې ونیول شي او په څنګ کې یې نړیوالې مرستې هم له پامه ونه غورځول شي، نو بیا په افغانستان کې د بېوزلۍ او فقر خبره تر ګردو لویه او د شرم خبره ده! مانا دا چې له دې ټولو سره سره اوس باید افغانان د فقر او لوږې خبره ونه کړي، اوس باید افغانان خودکفا وي، اوس باید د افغانستان د هر وګړي ژوند نورمال او بنه وي، خو له بده مرغه اوس هم افغانان وږي دي، اوس هم د افغانستان اقتصاد له صفر سره ضرب دی او اوس هم د خلکو ژوند په ډېره ټیټه سطحه کې دی، په داسې یوه سطحه کې چې یوازې د ژوندي پاتېدو لپاره تلاشونه کېږي. دا چې افغان دولت د دې خبره کوي، چې فلانی کان به د دومره خلکو په ژوندانه کې بنه والی راولي او فلانی به د دومره! همداشان په عوایدو کې زیاتوالی او تر څنګ یې نړیوالې مرستې، چې په اړه یې ویل کېږي، چې د افغانانو ژوند به ورسره بنه شي، دا او دې ته ورته ټولې کیسې او وعدې هسې خوشې لافې او دوکې دي، ځکه له دې ټولو سره سره د هرې وړځې په تېرېدو د افغانانو حالت له بنه توب څخه د بدې پلوځي. که په رښتیا هم دا خبرې واقعیت ولري، نو اوس باید افغانانو په ډېره لوړه سطحه ژوند درلودای، حال دا چې اوس هم په ډېره ټیټه سطحه کې ژوند کوي او د دې څو کلونو په بهیر کې یې د ژوندانه په بنه والي کې هېڅ مثبت بدلون نه دی راغلی، بلکې نور هم منفي خواته تللی دی. مور دا منو، چې د ډېر کم شمېر افغانانو ژوند بنه شوی، خو هغه څو لاملونه لري، چې مهم یې پراخ اداري فساد او په دولت کې لوړې څوکۍ او له دولتي بودیجې او دولتي واک څخه ناوړه ګټنه کول دي. یا نې د هغو خلکو ژوند بنه شوی، چې یا یې په دولت کې څوکۍ موندلې، یا له دولت سره نږدې اړیکي لري، یا یې فساد کړی، یا یې له زور څخه کار اخیستی او یا هم له بهره بډای او شتمن راغلي، نور په عمومي توګه د افغانانو په ژوند کې هېڅ مثبت پرمخیون نه ترستر ګو کېږي. په هر حالت مهمه خبره داده، چې دولت لږ خپلې نیمګړتیاوې په پام کې ونیسي، لږ د دې مظلوم ملت اهونو او هیلو ته هم غوږ کېږدي. پر دې بنسټ دولت باید نور د میم زور ما ټول زما پر ځای ملت ته هم یو څه ور کړي او د ملت غمه هم وخوري، ځکه دولت د ملت لپاره دی، نه ملت د دولت لپاره. نو په دې توګه د ملت راضي ساتل په خپله د دولت بري او پرمختګ دی او که دولت یوازې د یوځو کسانو لپاره وي او د یو څو کسانو ګټې وټې خوندي کوي، نو بیا دولت هېڅکله د ملت نماینده ګي نه شي کولای او ملت هم پر دولت باور نه کوي، چې له بده مرغه دا حالت اوس رامنځ ته شوی هم دی. ملت له دولت سره ډېره فاصله پیدا کړې او ملت پر دولت خپل باور له لاسه ورکړی او حتا له دولت څخه د پرمختګ او هوساینې هېڅ هیله هم نه لري.

پر دې اساس ویلای شو، چې افغانستان د پراخو طبیعي زېرمو او پراخو عوایدو درلودونکی هېواد دی او له دې سره سره بیا نړیوالې مرستې هم دلته د یادونې دي، ځکه له دې هېواد سره زښته زیاته نړیواله مرسته شوې او لا کېږي هم، نو دولت او لوړو چارواکو ته اړینه ده، چې پر ځان دا لازمه وګرځوي، چې وایي، زه دې وچ هډوکي شپېلم، خو ملت مې دې سلطان وي. یا نې د ملت بډاینه او د ملت هوساینه د دولت هوساینه او پرمختګ دی. که پر دې بنسټ کار وکړي، نو ملت سل په سلو کې د دولت ملاتړي او کله چې ملت له دولت سره لاس یو کړي، نو ټوله نړۍ هم د ماتولو توان نه لري، خو کله چې ملت له دولته لاس واخلي، نو د دولت ماتول ډېره ساده او اسانه خبره ده او هغه د یو چا خبره ده، چې وایي د خلکو او ملت زور د خدای زور دی. نو ځکه باید ملت ته سپک ونه کتل شي او د ملت د خوندیتوب، ګټو، پرمختګ او هوساینې لپاره کار وشي او که نه نو ملت خو ملت دی او ملت بیا د ځان د دفاع په خاطر هر څه کولای شي او هر څه یې پر وس پوره دي.

په افغانستان کې د امریکایي ...

څخه یې ۱۰۳۱ تنه د امریکایانو د دښمن په بریدونو کې، ۹۴ تنه نور له افغانستان څخه بهر د افغانستان عملیاتو نه د دفاع او مرستې په مهال وژل شوي او له په دې کې هم ۱۱ تنه د خپل دښمن له لاسه وژل شوي. د روهي وېښې په وینا، په ټوليزه توګه ۹۰۹۵ تنه امریکایي سرتېري له دښمنانه بریدونو او چلند سره مخ شوي دي.

چرا بازار قالین های افغانی ...

"قالین افغانی قیمت تر است و زور مردم نمی رسد، قالین های ایرانی و ترکی ارزان تر است و مردم به طرف ارزان می دوند."

قیمت مناسب:

عبدالصبور یک تن از باشنده گان کابل که می خواهد، قالین بخرد می گوید، به دلیل قیمت بودن قالین افغانی ترجیح می دهد، تا قالین ترکی بخرد. وی می گوید: "شخص خودم آمده ام، تا قالین ترکی بخرم به خاطری که از نظر قیمت مناسب است و قالین وطنی هم قیمت است، ایرانی کیفیت پایین دارد."

عبدالصبور می افزاید، در افغانستان تنها کسانی قالین افغانی را می خرند که اقتصاد خوب دارند. او می گوید دلیل اصلی بازار کمرنگ قالین افغانی در بازارهای افغانستان، اقتصاد ضعیف مردم آن است، وی در ادامه اظهار می دارد: "تفاوت بین قالین افغانی و ترکی بسیار زیاد است؛ یعنی قیمت قالین افغانی چهار تا پنج برابر قالین ترکی است. اما تفاوت قالین های ایرانی و ترکی کم تر است."

وزارت تجارت افغانستان می گوید، پس از تصویب قانون حمایت از تولیدات داخلی، دولت افغانستان می تواند، راهکارهای قانونی را برای بهبود تجارت قالین افغانی به کار گیرد.

د سوداګرۍ په برخه کې شوی...

راغلي چې د ګمرکي تعارفود ټیټولو په برخه کې دې کارنده ګامونه واخیستل شي. دا مهال ډېرې سوداګر افغانستان ته له پاکستانه د خپلو توکود رالېږدولو په برخه کې له ګڼو ستونزو سره لاس و ګرېوان دي. د افغانستان د سوداګرۍ وزارت وایي دا مهال هم د سوداګریزو توکیو دوه زره ګاډي په کراچۍ کې بندر ولاړ دي. بله غاړه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي چې یوه نړیواله څارونکې جرګګۍ به ددغه ټرون د پلي کېدو څارنه کوي او وایي دوی هم هڅه کوي چې دغه ټرون عملي شي. دا چې افغانستان په وچه کې راګیر هېواد دی له دې کبله خپل سوداګریز توکي له نورو هېوادونو او په ځانګړې ډول د پاکستان له لارې رالېږدوي. د ځینو رسمي شمېرو له مخې افغانستان ته د پاکستان د صادراتو کچه په کال کې یو نیم میلیارد دوه ډالرو ته رسېږي په داسې حال کې چې په همدې موده کې پاکستان ته د افغانستان د صادراتو کچه ایله بیله نږدې دوو سوو میلونو ډالرو ته رسېږي. د بي بي سي د راپور له مخې، کارپوهان هیله لري چې ددغه نوي ټرون په پلي کېدو سره به پاکستان او نورې نړۍ ته د افغانستان د صادراتو کچه پام وړ لوړوالی وموميي.

جمهوریخواهان مجال نفس کشیدن را به دمکرات ها ندادند

منبع:مسکو تایمز | نویسنده: گلن آلتشولر | ترجمه : سارا معصومی



رای دهنده گان امریکایی به بارک اوباما و دموکرات ها مشت کوبنده زدند. مخالفان اوباما در رادیو و تلویزیون و تندروها در " تی پارتی" از رکود بوجود آمده در پیشرفت اقتصادی بسیار ناراضی هستند . میزان بیکاری همگان را مشوش ساخته است. این رقم نزدیک به ده درصد رسیده است و البته از آنجا که بسیاری دیگر به دنبال کار هم نیستند این رقم را می توان نزدیک به ۱۵ درصد هم دانست. اکثریت امریکایی ها از این همه قرضداری شاکی هستند. بسیاری حتا موفقیت اوباما در تصویب بهداشت عمومی را هم به چشم نمی بینند. همان طور که پیش بینی می شد کنترول مجلس نماینده گان در دستان جمهوری خواهان است. در مجلس سنا هم جمهوری خواهان موفقیت هایی را از آن خود کردند اما اکثریت در اختیار دموکرات ها ماند.

طبیعی ترین نتیجه این انتخابات توقف در قانون گذاری های داخلی خواهد بود . همگان از جمهوری خواه تا دموکرات خود را برای انتخابات ریاست جمهوری در سال ۲۰۱۲ میلادی مهیا می کنند. از آنجا که بارک اوباما نمی تواند کار چندانی برای بهبود اوضاع اقتصاد داخلی انجام دهد، بی شک به سمت دستگاه دیپلوماسی حرکت خواهد کرد. موفقیت در این حوزه هم با توجه به اوضاع در افغانستان و عراق و مبارزه جهانی با ترور چندان آسان به دست نخواهد آمد .

اکنون پرسش اینجاست که موفقیت جمهوری خواهان در کنگره چه تاثیری بر رابطه میان ایالات متحده - روسیه خواهد گذاشت؟ سال ۲۰۱۱ که از راه برسد احتمالا مجلس سنا معاهده جدید" استارت " را امضا می کند و امضای نهایی اوباما هم بر پای آن به چشم خواهد خورد . بر اساس این معاهده تعداد موشک های هسته یی و کلاهک ها در اختیار هر دو کشور کاهش می یابد . ماه گذشته کمیته خارجی سنا پیش نویس این معاهده را امضا کرد . جمهوری خواهان در کنگره هم می توانند رای مثبت خود به این معاهده را نشانه یی دال بر همراهی با دموکرات ها در نیل به اهداف امنیت ملی بدانند. در سنا اما جمهوری خواهان تازه وارد می توانند سدی در برابر به دست آمدن ۶۷ رای کافی برای تصویب این معاهده باشند . در حالت کلی هم جمهوری خواهان می توانند از اوباما بخواهند که با بهانه کردن مسایل امنیتی و دیگر مسایل مورد اختلاف چندان هم با روس ها نزدیکی نکند .

حکم مجلس سنا برای معاهده " استارت" هر آنچه که باشد، باید اعتراف کنیم که رابطه میان روسیه و ایالات متحده تحت تاثیر درخواست بارک اوباما از دمیتری مدودف قرار خواهد گرفت. اوباما تا کنون بارها از مدودف خواسته است که برای متوقف کردن برنامه هسته یی ایران هر آنچه که از دستش برمی آید را انجام دهد . هر روز بر دامنه نفوذ ایران بر مسایل منطقه یی افزوده می شود و این در حالی ست که ایالات متحده به شدت نگران این تاثیرگذاری ایران بر کشورهای منطقه است . در میان راه یافتگان به کنگره ایالات متحده، جمهوری خواهان تند روی هم هستند که خواهان بمباران تاسیسات هسته یی ایران هستند . اوباما می تواند در برابر این درخواست ها مقاومت کند اما به شرط آنکه این مقاومت به ضعف تعبیر نشود . چین هم که ایالات متحده با آن بر سر مسایل مختلفی مانند نرخ سود و تجارت اختلاف دارد نمی تواند در حوزه ایران کمک چندانی به ایالات متحده بکند چرا که ایران تامین کننده بخشی از نفت مورد نیاز این کشور است .

در اینچنین شرایطی اوباما می تواند تنها به روسیه امید داشته باشد . این کمک روسیه هم قیمتی دارد . روسیه بی شک از اوباما می خواهد که در برابر این همراهی بهای آن را هم پرداخت کند. بهایی مانند چشم بستن بر بسیاری از اشتباهات تاریخی اتحاد جماهیر شوروی سابق . یک راه دیگر هم برای حفظ رابطه با روسیه، ادامه دادن استراتیژی فعلی در قبال گرجستان، اوکراین و دیگر کشورهای آسیای مرکزی است .

رابطه واشنگتن با این کشورها در ده سال گذشته ، تاثیر بسزایی بر رابطه میان کرملین و کاخ سفید داشته است . فراموش نکرده ایم که در دوران ریاست جمهوری جورج بوش رابطه میان دو کشور تا چه اندازه تخریب شد چرا که واشنگتن در حیاط خلوت امریکا دست به شیطنت زده بود . با توجه به روسیه و دیگر دغدغه های ص۳

چرا بازار قالین های افغانی در افغانستان بی رونق شده است؟

یک تاجر افغان در این زمینه می گوید: "قالین افغانی قیمت تر است و زور مردم نمی رسد، قالین های ایرانی و ترکی ارزان تر است و مردم به طرف ارزان می دوند." وزارت تجارت افغانستان می گوید، به منظور حمایت از تولیدات داخلی افغانستان از جمله قالین، طرح قانونی را زیر دست دارد که به زودی برای تصویب به پارلمان افغانستان ارایه خواهد شد.

در همین حال، تاجران قالین شکایت دارند که بازار قالین افغانستان در داخل کشور از رونق افتاده و جای ان را قالین های ایرانی و ترکی گرفته است. ولی سخنگوی وزارت تجارت و صنایع افغانستان می گوید، به منظور رشد صنعت قالین تلاش می شود، تا از طریق حمایت از این صنعت برای فروش آن بازاریابی شود.

افزایش تعرفهٔ گمرکی:

احمد فرهاد افغان زوی سخنگوی وزارت تجارت و صنایع افغانستان می گوید، دولت افغانستان تصمیم دارد، از طریق افزایش تعرفه های گمرکی بر واردات، صنعت قالین را تقویت کند. وی می افزاید: "ما از سیاست حمایت از تولیدات داخلی حمایت کرده ایم و می کنیم. به همین خاطر دولت افغانستان می خواهد، تعرفه های گمرکی خود را افزایش دهد، تا اینکه ما تولیدات داخلی را حمایت کنیم. این راه حل قانونی و تجارتی است."



وزارت مالیهٔ افغانستان، سهولت هایی را در صادرات قالین به وجود آورده است، چنانکه عزیز شمس سخنگوی وزارت مالیه می گوید، به منظور رشد صنعت قالین این وزارت محصول صادرات قالین را معاف کرده است. اما به گفتهٔ سخنگوی وزارت تجارت، به دلیل عضویت در سازمان های منطقه یی مانند سازمان سارک و ایکو نمی تواند، محدودیت های بیشتری بر واردات خود وضع کند.

قالین های ترکی و ایرانی به جای قالین افغانی:

در حال حاضر، تاجران افغان شکایت دارند که قالین های ترکی و ایرانی جای قالین افغانی را در بازارهای افغانستان گرفته است و به همین دلیل این نگرانی وجود دارد که قالین افغانی به فراموشی سپرده شود. هم اکنون در شهر کابل پایتخت تقریبا تمام قالین فروشی ها مملو از قالین های ایرانی و ترکی است و جای قالین افغانی در اکثر فروشگاه های قالین افغانستان خالی است.

بصیر احمد یک تن از تاجران قالین در شهر کابل می گوید، به دلیل اینکه مردم قالین افغانی را نمی خرند، در فروشگاه خود قالین های ایرانی و ترکی را می فروشد. وی می گوید، مشتریانش قالین افغانستان را به خاطر قیمت بودنش نمی خرند، وی خاطر نشان می کند: ص۳

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ -۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې دسرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې دلیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پښتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com